ارشاک او اوشاس

عبدالغفورلیوال

ارشاک
او
اوشاس

عبدالغفور لېوال

۱۳۸۰ لمریز

داکتاب:

نـــــوم: ارشاک او اوشاس

شـــاعـــر: عبدالغفور لیوال

خپرنځای: پېښور

چـــاپ شمېر: ۱۰۰۰ توکه

د خپریدو نیټه: وری ۱۳۸۰ لمریز

کمپـوز: سیف الله «زمانی»

د چاپ زیار: محمد داود وفا

د کتاب د چاپ او خپراوي حق له شاعر سره خوندي دی.

بسم الله الرحمن الرحيم

ارشاک او اوشاس

د هیندوکښ پرهسکو څوکووې لاواوړې پرتې
خوپسرلی د کاپېسا میلمه و
او په بګرام کې د ګلونو څپو
د آرېایي پېغلو لمنوته عطرونه شیندل
پاس په دره کې لمرته
ځنګلونه ښېاویښېدل
د کاپیسا د ښتې وې تولې له غاټولو ډکې
د پسرلي داسې ښایسته ورځې وې
چې د بګرام مانۍ کې
د ښادۍ ډول اتن ته وګرزیده

زلمبوو اچولې څنې ورته
پېغلې ګیډې ګیډې راتاوې شولې
ګرده کړې یې دا تن جوړه کړه
سرې عنابې پېالې راوګرځېدې
ښکلیو ساقیانو ډک خمان ګرځول
شپه چراغانه لکه ورځ ښکاریده
د خوشالۍ او د ښکلا شېبوکې
کوم مسا پرچانه پوښتنه وکړه
چې دغه جشن دا ښادي ولې ده؟
دومره بې حده خوشالي ولې ده؟
کاپیسا وال ورته ځواب کې ووېل:
ترتا قربان شم نا خبره ورورد
د آریایانو د بري په خاطر
زمور د ځپلې خپلواکي په خاطر
د لښکر مشر دا فرمان ورکړی
چې بس دا اوود شپې او دا اوود ورځې دې
په کاپیسا کې خوشالي وي اتهونه به وي
د ښووبش به وي جشنونه به وي

د لښکر مشر بریمن ستون شوی
د غه جشن د بري جشن دی
کا پیسا وال خپل مسا پر اشنا ته
یوه پیاله له میو ډکه ورکړه
او بیا بې داسې وویل:
زما مسا پره اشنا!
تا نه قربان شم بې خبره اشنا
څه موده مخکې زمونږ پر ښکلي کوبا
د آسمایي پر ها سپیڅلې سیمه
د ارغوان په رنګونښکلې سیمه
د غلیمانو لوی تاراک تېرشو
د آربایانو د دښمنو تاراک
ها پنچالیان یادوم
د اباسین له سیندې پورې خلک
چې لونګی نه لري لنګونه تړی
هاچې له رنګه توردي
د زړه له سنګه توردي
چې بې « راجا » مشر دی

له کینشکایې بغاوت کړی دی
دوی نه بودا چې هم نفرت کړی دی
څه موده مخکې یې ښکرونه شنه شول
او دراجالښکریان
ښکلي کابل ته راغلل
د آسمایي معبد زمور د نېکمرغۍ معبدو
هلته وه ښکلې ملکه د خپلواکۍ ولاړه
ها چې هوسۍ نومیده
هغه هوسۍ چې کنشکاهم ورته سرتیټوي
ستر کنشکا خپل هغه تاج چې « همایون » نومیده
د خپلواکۍ د دغې ښکلې ملکې سرته په نذرورکړ
داسې یو تاج چې له الماسو او سروزروجوړو
داسې یو تاج چې په دنیا کې یې مثال نه درلود
داسې یو تاج چې آریایانو به پرې فخر کاوه
هوز مور ستر شهنشاه
لوی کنشکا خپل دغه ښکلی تاج هوسۍ ته ورکړ
همایون تاج د آریایانو د عزت نښه وه
همایون تاج د آریایانو خپلواکي نومیده

همایون تاج به د هوسی پرښکلي سرځلیده
خوپنچالیانو دغه تاج ځان سره وتښتاوه
اوس د هغوي د تور راجا پرسردی
همایون تاج هغه سپېځلي نښه
همایون تاج د آریایانو غرور
اوس د راجا پرسردی
او اباسین نه هاخوا
د پنچالیانو تور لښکروړی دی
خو مساپره! واوره!
لوی کنشکا چې دا خبرواوریده
له پکتیانا اوروهستان څخه یې
ډېر پکتانه زلمي یوځاي کړل سره
لوی لوی لښکریې جوړ کړل
ددې لښکرومشر
همدا بودا سالار شو
چې نن بې دلته د بګرام مانې کې
داسې لوی جشن جوړ کړ
سالار بری ګټلی

اوس د بګرام پرښکلا زړه مړوي
د کاپیسا له ښکلیو کام اخلي
د هیندوکښ په او بوزړه سړوي
سالار جګړه ګټلی
سالار اتل دی اتل
مور د بودا اتل د سوبې او بري په خاطر
داسې اتې کوو پیالې ویشو
چې پنچالیان موتر اتکه تېرکړل
مګر ارمان دی اشنا :
چې د کابل د آسمایي معبدکې
هوسې هماغسې تپې پاتې دد
وبارلی سرېې لوڅ دی
همایون تاج ورنه راجاوړی دی
هوسې تر اوسه لاسر تورد پاتې
د آریانا عزت راجاوړی دی
ستر کنشکا د پکتانوز لمیو
سو ـل لښکر جوړوي
داسې لښکر چې به نیزې ولري

او تېره غشي به يې تېرې چوي
د غه لښکر به اباسين څخه ورپورې غاړه
د پنچاليانو له راجا سره جګړې ته ورځي
ګوندې لښکر د پنچاليانو مات کړي
ګوندې راجاو وژني
اولوی غرور د آريانا وګټي
د هوسې ښکلی تاج ترې بيا وګټي
ګوندې باللی عزت بېرته راوړي
همايون تاج امانت بيرته راوړي
ستر کنشکا وېلي:
هريو زلمي چې د راجا سر غوځ کړ
هر سپاهي چې تاج هوسې ته راوړ
هر څه چې وغواړي انعام به ورکړم
يولوی انعام به له خپل ځانه ورکړم
هو دازما وعده ده
د غه وعده د کنشکا وعده ده
اوس پکتانه زلمي لښکرجوړوي
په کاپيسا او په کابل کې واستاکار لګيادي

دغه لښکر ته له فولاد ونه نیزې جوړوي
نو مسا پرداشنا!
زما قلندرداشنا!
چې دې په سترګو کې جهان ځاییږي
ته چې ملنګ بې کرامات به لرې
ګوندې په زړه کې برکات به لرې
داده زمور د د خوښیو کیسه
او د جشنونو پایکوبیو محفل
او مسا پر ملنګ چې داواوریدل
په شور ما شور او هیا هویې ووېل:
جامونه ودروئ سازونه بندکړئ
چې زه یوراز له خپل کماله لرم
یو د کیسه هم له پنچاله لرم
ملنګ دا خبرې وکړې (*)
او ناڅاپه بې څرخ وخوړ
لوی مبدان ته چې ورګډ شو
نویې درب ورکړ پښې ته

(*) دلته د شعر وزن او آهنګ بدل دی هیله ده چې تر یوځایه په بیل آهنګ سره ولوستل شي.

ټول محفل يې کړ خاموشه
له ساقي تر باده نوشه
ستر سالار خپل لاس وچت کړ
اوسازيانو خپل ساز ټپ کړ
نڅاګري شوې کراري
خلک ودريدل په لاري
زوړ سالار د لښکر پاڅېد
او ملنګ ته يې ناري کړې
اې ملنګه ليونيه!
وايه څنګه دلته راغلې؟
زمور عيش دې را خراب کړ
په خورو ورو خبرو
دې را خلاص د زړه کتاب کړ
ملنګ وکتل سالار ته
لږ موسکی شو بيا يې وخندل په زوره
دا خندا دليونتوب وه
که يې وخندل د زړه له پټه شوره
په خندا کې ملنګ ووېل:

د زلمیو بودا مشره!
ته په څه باندې مغروریې؟
پنچالیان دې دي شرلي؟
که راجا دې دی مات کړی؟
مګر ته خو هم خبریې
چې راجا دی اوس خوشاله
ستاد بنکلې هوسۍ تاج یې پرسرایښی
ځان خبر کړه له دې رازه
سل طلسمه دي په کار کې
مالیدلي دا په خوب کې
چې «بودا» یې راته وایي
دا زما خبرې نه دي
راوتلې د بودا له بنکلي زړه دي
تور راجا د ابلیس یار دی
ها ابلیس چې د مابنام په بنار کې اوسه
لمرلویدو خواته یې کوردی
دا طلسم پرراجا دی ابلیس کړی
څو ناولي راهبان یې اشنایان دی

یو څو کسه هم داور له بتکدې نه
یو راهب د «دبویسنا» له لوی مندره
دوی جوړ کړی دی په ګډه دا طلسم
چې را جا کابل ته راغی
د هوسی تاج یې تالا کړ
بودا وایي:
دا طلسم به ماتیږي
دا طلسم له بدر نګونه جوړ شوی
ابلیسان دي ټول بدرنګه
د بدرنګو طلسمونه
به یوازې او یوازې
په ښکلا باندې ماتیږي
یوه ښکلې ښکلا غواړي
ښکلا نذر د بودا دد
ښکلا مینه د بودا دد
او بودا حسن پرست دی
نو سالارد زما یارد!
چې ته حسن نذرانه کړئ

کاپسا کې ښکلې ډېرې
هر د پېغله يې ده حوره
کاپسا دې نذر ورکړي
دا طلسم به ماتيږي
اوس نو وګرځئ بګرام کې
چې تر ټولو ښکلې څوک ده
هغه نذر کړئ بوداته
هله مات به شي طلسم
د راجا او پنچاليانو
ملنګ دا خبرې وکړې
بيا يې درب ورکړ پښې ته
له محفله بهر ولاړه
داسې ورک شو چا ونه ليد
چې پرکومه لارد ولاړه
زوړ سالار خپل لاس وچت کړ
پيالې بيا په ګرځېدو شوې
د سندرو شور ماشور شو
نڅاګرو نڅا پېل کړه

او محفل له شورډ ک شو

خو سالار دې ته حیران دی

دا ترټولو ښکلې څوک دی؟

چې بودا ته یې کړي نذر؟

دا به څوک وي دا به څوک وي؟

دا ملنګ به ربښتیا وایي؟

چې بودا یې په خوب ولید؟

په ربښتیا به نذر غواړي؟

دا ترټولو ښکلې څوک دی؟

چې بودا یې نذر غواړي؟

دا به څوک وي دا به څوک وي؟...

* * *

بګرام د ټولې نړۍ حسن راټول کړی دلته
بګرام ښکلا ښکلا څپې وهي ټول
څه د سپرلي څه د ګلونو ښکلا
څه د مستۍ څه د جامونو ښکلا
د بګرامیو ښکلو پېغلو نڅا
د چلچراغ او فانوسونو رڼا
بګرام ژوندی دی بګرام جشن کوی
بګرام د مینې پېوندونه تړي
د پکتانو زلمو کارډه برېتونه
د کاپیسا د چتو پېغلو حسن

څه تماشايې جوړه کړې خدايه!
د دنګې ښکلې بلورينې مانۍ
تر څنګه ډول څومره په درزوهي څوک
او پکتانه سرتيري
څومره په مست انداز اتن کړي ورته
ملاوې ترلې تېرې تورې ترځنګ
چې د څپلېو يې خړپا خيژي
کله چې تاوشي او را تاوشي کيني
د پښوله پوندويې بريښنا خيژي
دا پکتانه اتن حيران
د ګرامير پېغلو زړه لوټوي
دا تن چپانو سر خيل
ها څنورها غنمرنګ زلمي
هغه چې غټې ځړې سترګې لري
هاد چنار په شانې دنګ زلمي
چې يې تر ملادی سور د سمال ترلی
څومره ښايسته دی څومره مست اتن چې
لکه کشه آس دی چست اتن چې

هار وهيلي دروهستان سرتيرى
ها پکتيانى ها چې «ارشاک» نومپرې
ها چې په تورد کې همتانه لري
ها چې جگړه کې څوک په مخ نه ورځي
هغه ارشاک هغه بپباکه زلمى
او د برېښنا په شان چالاکه زلمى
هغه چې زړه له يوې پښغلې وړى
د کاپيسا تر تولو ښکلې پښغله
ها چې د ډېرو د زړګي ډېوه ده
هغه چې تورې تورې سترګې لري
هغه چې حسن يې په زړو نوزلزله راولي
د کاپيسا د تولو نجونو د ښکلا ملکه
ښکلې «اوشاس» شوه په ارشاک مينه
اوشاس له لرې ورته گوري اوزلمى اتن چې
لا هم تاويږي راتاوېږي کښې
کاپيسا وال يې نندارې ته ولاړ
او د بگرام د پښغلو منځ کې ده اوشاس ولاړه
زړه يې درزيږي زړه يې څانګې وهي

زړه يې د چا په نري بريتو کې بند
زړه کې بې عشق لکه مات غشی بنوري
دا رشاک مينه يې پر حسن اوري
هلته ارشاک په اتنونو لګيا
دلته او شاس وربانديې زړه بايللی
اوشاس د مينې په لمبو کې سوزي
خو ، ارشاک نه دی خبر
ارشاک لګيادی اتنونه کوي
خو د بګرام دغه بيباکه پېغله
د هيندوکښ د سردرو شاهينه
څوګامه وړاندې ولاړه
ښه ورنږدې شوه دار شاک ديدن سه
آن چې د مست اتن چې
د پوند و خرپ يې هم له ورايه واورېد
او شاس په لاس کې دوه ګلان ساتلي
د سپين ګلاب څانګه کې دوه ګلونه
لکه ددوه زړونو د مينې شيبه
او چې ارشاک شو په اتن کې راتاو

ښه چې نړۍ شولو اوشاس ته داتن دورکې
هغې ډاډ وارد ګلان
په ښوې ښکلې ادا
پر ارشاک ورورل
د ګلاب ښکلې څانګه
پر ارشاک ولګېده
دهغه سترګې پر اوشاس خوږې شوې
اتن یې پرېښود پکتانوزلموته
ځمکې ته تېټ شو ښکلې څانګه یې راواخیستله
ببایې خوږې سترګې راپورته کړلې
او دا وشاس خواږه نظر پورې یې وګنډلې
سترګو د مینې لاړ جوړه کړله
سترګو خبرې پېل کړې
سترګو دزړونو راز یو بل ته ووېل
او په همدې شیبه کې
زړونو د مینې پېمان ټینګ و تاړه
ارشاک هم زړه پر اوشاس وبایلوده
ارشاک د تورو د مېدان جنګیالی

ارشاک د ډېرو هېوادونو فاتح
ارشاک د جنګ او درزمونو اتل
د لومړي ځل لپاره
داوشاس سترګو مات کړ
اوله دې وړځې وروسته
دوه زړونو خپلوکې خبرې پېل کړې
بس هره ورځ مازیګر
د کاپیسا د سیند پرغاړه د شنو ونومنځ کې
دوه زړونو یوبل ته کیسې کولې
د پاکې مینې کیسې
د سوه ښکلي ابدي عشق د خیالونو کیسې
هر مازیګر وه د سیند غاړه او د مینې دیدن
له هر دیدن سره د مینې پیمان لا پخیده
مګر ارمان زمانې!
څومره بخیله یې ته!
ستا د خوښیو وړځې څومره لږوې
ښایي چې ښه یې وروستی د ځل وي
ارشاک د ښکلي اوشناس غوږکی دا خبر وکړ

سا د جشن وروستی ورځ د د ګراني!
زمونږ لښکر به خدایزده چېرې ولاړشي
اوزه حیران یم ، زه به څنګه کوم
ګراني بیلتون دې مرګ دی
ما په بیلتون مه وژنه
اواوشاس ولړزیده
او شاس حیرانه ده چې داڅه اوري
داوشاس سترګې شوې له اوښکو ډکې
اوشاس چوپتیا کې ډوبه
اوشاس د غم په تال کې زانګي څه سوچونه کوي
اوشاس چارد لتوي
اوارشاک ګوري ورته
چې ښه نا څاپه اوشاس سرپورته کړ
په ښکلو سترګو کې یې پرک د هیلوونځیده
اوشاس موسکی شوه
اوشاس زیری وکړ
او خپل مین ته یې په مینه ووېل:
ګرانه! ته غم مه کوه

خدای (ج) د مینو مل دی
ما اوریدلي دي چې ستاسو د لښکر د مشر
نځاخو ښیرې نځاګر وته انعام ورکوي
او هر دورځ چې د سندرو په محفل کې کیني
چې د هر چانځایې خوښه شي نووایي ورته:
ووایه څه غواړې چې درکړمه انعام دنځا
اونځاګر چې هر څه وغواړي سالاریې منې
نوګرانه غم مه کوه
زه به سبا ته د سندرو د محفل میلمه شم
او د سالار مخ ته به وناځمه
داسې به وناځمه
چې یې نر اوسه څوک لبدلي نه وي
چې د سالار زمانځا خوښه شي
نو راته وبه وایې:
ووایه څه غواړې چې درکړمه انعام د نځا
زه به انعام کې ورنه تاوغواړم
هغه به تاما ته انعام کې راکړې
نه به زما ښې زه به ستاشمه د تل لپاره

اوزده به ستا د روهستان ناوې شم
ته به هم زما د زړه او ځان پاچاشې
د تل لپاره به لښکرې پریږدې
نور به دوینو پرځای مینه کوې
تورداو زغربه مات کړې
زما مړوندونه به دې غاړې ته امیل واچوې
ژوندون به یو د بل په غېږکې تېرکړو
هوزد همداسې کوم
سبا ته داسې ناڅم
چې به انعام کې خپل محبوب وګټم

***

د کاپیسا مانۍ کې جوړدی د سندرو محفل
او لښکریان ورنه چارپېرراتاودي
د پکتانو زلمیو سترګې له خوښۍ ډکې دي
ټن په بګرام کې وروستی جشن جوړدی
سبا به بیا لښکر جګړې ته ورځي
بودا سالار په پاقوتي تخت کښاست.
او د لښکرو نور مشران یې هم ترڅنګ کښاستل

سم چې بودا سالار خپل لاس پورته کړ
نو د سازونو هیاهو پورته شو
مستي نغمې د نڅاګانو پیل شوې
او ښکلي ښکلي نڅاګړې په میدان ګډې شوې
د کاښسا هغه نازکې پښې
د شرشرې په شانې
چې په کمر د الوېږي
داسې په ملا ماتیدې
د بوربوکیو غوندې مستي پښې
سازته په ملا کړې وړې راتللې
او د بودا سالار پر زړه پې ولولې راوستې
د لښکر مشر په نڅامین دی
د لښکر مشر نڅاګرو ته دنیا ښکله
کاښسا والو نڅاګرو قیامت جوړ کړی
کاښسا والی څه په شرنګ نڅیدې
او د بودا سالار په زړه وریدې
سالار د پښو لمانشا کوله
او د سازونو د سندرو هیاهو پورته و

PROPERTY OF ACKU 12164

تا به ویل ټوله کاپیسا نخیریې
او مست بګرام ورته سندرې وایي
د نڅاګانو او سندرو په دې مینت محفل کې
د ښکلو پېغلو د نڅاشیبو کې
د ساز آواز د شور ماشور په اوج کې
چې نڅاګرې نورې ستړې شولې
نوبو ناڅا په ډوډ پېغله راغله
نیلي جامې په غاړه ښکلې پېغله
په ټولو ښکلو کې آغلې پېغله
سپینه د سپینې شرشرې په شانې
د نګه د دنګې هسکې سروې غوندې
د نا اشنا پېغلې ښکلاته ټول لښکر حیران شو
او د سالار له خولې ناڅا په ډوډ «واه» پورته شوه
پېغله میدان ته راغله
په نرۍ ملا باندې کړه وړه شوه
دغه د حورې په شان ښکلې پېغله
نیلي جامو کې څه ښایسته ښکاریده
لکه نیلي آسمان کې جوړ سپینو ستورو قامت

لکه اوبو کې راپریوتې سپورمۍ
لکه سپېځلې هوسۍ
د آسمایي معبدکې
لکه سپین تودشنو اوبو پرمخه
لکه د خدای په لاس جوړ شوی تصویر
اوشاس وه هومره ښکلې
چې د شاعرخیال یې تمثیل نه شو کړای
اوشاس میدان ته راغله
او سندر مارویې ښکلاولیده
حدا یزد لاسونو کې یې څه بلامستي راغلل
چې له سازونو یې قیامت پورته کړ
اوشاس نڅاپیل کړه
او لښکر هانو نه غربو پورته شو
سالار په پښو ودرېد
د سالار سترګې له کاسو ووتې
داوشاس حسن ته یې خوله وچه شوه
په وچو شونډویې کړه ژبه تیره
او اوشاس ونڅیده ونڅیده

په ملا شوه تاوه او راتاوه دلمبې په شانې
داوشاس پېچ و تاب عالم لرزوي
او شاس د چا په مينه مسته ده چې داسې ناڅي
داوشاس هر اندام پر زړونو زلزلې راولي
او شاس چې ښکته شي او پورته شي نو زړونه ريږدي
داوشاس زلفې چې راتاوشي پر سينه پريوځي
د هوسونو ليونۍ څپې پر زړه راولي
او په بودا سالار ځواني راولي
د بودا ځوان هوس خبرې کوي:
واه څومره ښکلی حسن
په ټول جهان باندې يې ساری نه شته
دا لورېينه د د خدای (ج)
د کاپيسا پرځمکه
واه څومره ښکلې ناڅي
نن کاپيسا کې ده ماخپله ځواني بيا موندلې
د کاپيسا خپلواکي ماګټلې
پر کاپيسا باندې زما د ډېر احسان په خاطر
زما د ډېرو قربانيو د تاوان په خاطر

کاپیسا خپله ښکلي لږ زما په واک کې راکړه
دې ته به ټول جهان انعام ورکړمه
جهان لاځه کړې ځان انعام درکړمه
له دې نه لوی انعام به څه وي دې ته؟
چې د سالار مېرمن شې
هوزه د لوښو لښکر نو مشر
چې د نامتو کنشکانبۍ مټه یم
زه د جنګونو اتل
د ټول جهان ستر فاتح
هو کې دا زه به یې غلام شم غلام
له دې نه لوی انعام به څه وي دې ته؟
کاپیسا خپله لور دې ماته راکړه!
تا زما د ډېرو قربانېږ د احسان بدل کې
څومره پرځای سوغات ټاکلی ماته
کاپیسا تا څخه مننه کوم
چې زما تېارو شپوته دې داسې روښ څراغ راکړ
کاپیسا ستا دغه سوغات د سرپه ستر گومنم
دا پېغله زما د زه د دې پېغلې یم

زه به يې غېږه کې د ژوند تر تولو ښکلې شپې په سروارم
زه به يې ښکلی وجود
په خپله غېږ کې تودکړم
اوهر اندام به يې زما په لاس کې
د پاسته موم په شانې ولوبيږي
دا به وي زما دلوی حرم ملکه
او هره شپه به زما محفل په خپلې ښکلې نڅا
تو داو رنګين ساتي
پرېږده چې ونښېږي
هغه خبره نه ده
چې يې په برخه څومره لوی انعام دی
نن دمحفل په پای کې
زه مې خپل سر ددې پښو کې ږدمه
او تول محفل ته دا اعلان کومه
چې دغه پېغله به زما ناوې شي...
او بوډا داسې پراوشاس مين شو
چې يې د تل لپاره
هغه د ځان بلله

بودا مین شو او اوشاس نخیده
اوشاس کړه وړه په ملاما تپده
د سپینې مستې شرشرې په شانې
یاد سره اور د سړې لمبې په شانې
لښکریان ټول حیران وو
چې په همدې شیبه کې
د پکتانو له منځ نه
یو دنګ زلمی راووت
د ښکلي آس په شان چې سرواخلي
داسې په هسکه غاړه وړاندې راغی
یوه ګیډی د سرو ګلانو په لاس
یوه شیبه یې خپلې مینې ته په ځیرو کتل
بیا یې ګیډی خلاصه کړه
او پر هغې یې د ګلونو باران ووراوه
د سرو ګلابو ګیډی
دانه دانه پر اوشاس ولګیده
بیا یې ترپښو لاندې راپرېوتل ټول
او دې ګلونو داوشاس ښایست څوچنده د ر کړ

اوشاس نڅا پرېښوده

اودار شاک تر څنګه ودرېده

بیا یې د خپل مین لاسونه سینګل کړل

مخ یې سالارته کړ او ویې ویل:

ای دلښکرو مشره!

ستړه سالاره! چې زما نڅاته

په پښو ودرېدې

اوز ماهنر دې خوښ شو

ماته دې ویاړ وبښه

نوزده د خپل هنر لپاره یوسوغات غواړم

تا نه د خپلې نڅا

یولوی انعام غواړم

ماته انعام کې دا زلمی وبښه

پریږده چې زه دده شم

او دا زلمی زما شي

مورِ ېو پر بل مین ېو

مورِده د ګډوډوندون پیمان تړلی

زمورِ سپېڅلې مینه

د ګډ ژوندون ارمان ته لاره څاري
ته موارمان پوره کړه!
ته موارمان پوره کړه!
اوشاس زاری کولې
مګر خبره نه وه
سالار غوسې څخه په ملا تاویده
لکه په غشیو لګیدلی ښامار
لکه په توره وهل شوی هاتې
لکه زخمي زخمي پرانګ
او لکه ډبری زمری
سالار غوسه دی اوله قهره ریږدي
د سالار سترګې دي دوینو کاسې
د سالار رنګ له غوسې توراوښتی
سالار په چیغو وویل:
داسې به هیڅ ونه شي
ای ښکلې پېغلې ته به زما شې زما!
ته به یوازې د سالار ناوې شې
ستا نېکمرغي لویه ده

ستا د ښکلا او د هنر په قدر زه پوهېږم
د غه زلمی سرتیری څه پوهېږي ؟
ته به زما په شان د سترسالار حرم ته ورځې
تا ته ددې سرتیري مینه حقارت ګڼمه
ډېر ژر به ته شې د سالار ملکه
او داګستاخ زلمی به
ډېر ژر د مرګ میلمه شي
د غه زلمي چې سرکشي کړې دد
او د سر تېروله کتارد وتی
ددې عاصي جزا یوازې مرګ دی
زه همدا اوس هغه په غشي ولم
زما د غوسې تنده به
ددد دوینو فوارې ماته کړي
بودا سالار دا وویل
او ژریې غشی په کمان کې کیښود
خوتول حیران شول حیران
ارشاک هم غشی په کمان کې کیښود
اوشاس غوښتل چې دارشاک سپر شي

او دارشاک پر ځای ددې سینه غلبیل غلبیل شي
خولا سالار ځان خوځولی نه و
چې دار شاک دغشي شغ پورته شو
او مخامخ یې د سالار په زړه کوڅه تېره کړه
داسې تیره داسې چتک وغشی
چې د بودا له زړه نه تېرشو اوله شا یې ووت
پرویښو سور لڑند پرځمکه پریوت
بودا سالار وغورځید
له ټول لښکر نه شور ماشور پورته شو
او دار شاک منټې یې وترلې
نو د لښکر مشران را ټول شول په پرېوتی سالار
ټول یې له ویرې رپېدل ترا وسه
او د سالار وروستی سلګیوته حیران پاتې وو
چې لګیدلي سالار
په نېمه ژبه او ځګیرویو وویل
دغه زلمی مه وژنئ!
هغه آزاد کړی هغه مه بندوئ:
دهغه منټې دي ځواکمنې منټې

ما ته یې اوس د متوزور ښکاره شو
دغه زلمی دی یو پښاوری او تکړه جنګیالی
د ښمن یې غشي څخه هیڅکله خطا نه لري
دغه زلمی مه وژنئ!
هغه جګړې ته بوځئ!
هغه مین دی او په زړه کې یې د مینې زور دی
تا سو ته زور د مینې نه دی معلوم
هغه د مینې زور مجبور کړ چې نن ما ووژني
هغه له ما سره د عشق رقیب شو
او په خپل ژوند باندې ونه ویریده
مین انسان له مرګه نه ویریږي
هغه مین دی مین
او مین لوی انسان وی
دلوی انسان وژل وي لوبه ګناه
هغه د عشق لاره کې هر څه کوي
هغه په مینه کې د ټول جهان لښکرو سره جنګ کوی شي
هغه جګړې ته بوځئ!
له نن نه وروسته دا زلمی دی د لښکرو مشر

د غه زلمی د ټول لښکر سالار دی
زما له مرګ نه وروسته
د ټول لښکر مشر همدی وتاکئ
پریږدئ چې ولاړشي اباسین نه هاخوا
د پنچالیانو جنګ ته
پریږدی چې لاړشي له راجا سره جګړې ته ووځي
ګوندې راجا ووژني
او د پنچال لښکر ته ماته ورکړي
ګوندې همدا زلمی به
همایون تاج وګټي
کیداې شي دغه زلمی
د آرټانا تللی غرور وګټي
دغه زلمی به د سرتوړې هوسۍ
د خپلواکۍ لوټ شوی تاج ولټه کړي
ځکه هغه مین دی
او مین هر څه کوي
خدای (ج) د مینو مل دی
څوک چې مین وي له بنامار سره جګړې ته ورځي

څوک چې مین وي د پرانګانو خولې ته لاس اچوي
څوک چې مین وي له زمرېو سره غېږې نیسي
زما لښکریانو زما وصیت ومنئ
ولاړشئ بایللی تاج مو بېرته راوړئ
د آریانا غرور موبیا وګټئ
او دغه پېغله دغه ښکلې نجلۍ
چې نن یې زه شومه د عشق قرباني
دا د بودا نذر کړئ
دها سپېځلي قلندر په ژبه
دهغه مست مستانه ملنګ له خوب سره سم
چې بودا نذر غواړي
د کاپیسا تر ټولو ښکلې نجلۍ
چې د خلقت د ټولو ښایست نښه ده
دا د بودا نذر کړئ
چې د بدرنګو طلسمونه مات شي
ملنګ ویلي وو دا
« چې د بدر نګو تور طلسم په ښکلا ماتیږي . »
د کاپیسا تر ټولو ښکلې خو همدا پېغله ده

د کاپیسا څه چې په ټول جهان کې دا ښکلې ده
د غه نجلۍ به کاپیسا کې د بودا د ستر معبد نذر کړئ
هغه بودا راهب ته وسپارئ چې ویې ساتي
بس هره ورځ به د بودا د خوشالۍ لپاره
د هغه مخ ته ناڅي
له ننه نه وروسته د غه پېغله د بودا ناوې ده
هغه به وناڅي بودا ته د بدرنګو به طلسم مات شي
او دا مینې زلمی به
ترابا سینه ها خوا
له پنځالسو نو سره جنګ ته ولاړشي
یا به جګړه کې مړ شي
او زما د مرګ کسات به واخیستل شي
یا به د تورو پنځالسو نو لښکر تار په تار کړي
که یې راجا ته چېرې ماته ورکړه
ښایي نو د لوي کنشکا خپله خوښه
چې پر زلمي باندې د څه شي لور ښینه کوي
ما خپله وینه وربښلې ده ته
هغه مینې دی

او مین زما د قتل په گناه مه وژنئ!
ستر کنشکاته زما پېغام ېوسئ!
زما وصېت همدادی
زما وصیت همدا دی...

***

دلمر زرینه بگی
بیا د اسمان پر لاره وځرخیده
او کاپیسا د یوې بلې ورځې مخ ولیده
دا یوه لوبه ورځ ده
نن د لمر لور ښکلې «سوریا» هم کاپیسا ته راتله
سوریا چې خپله الماسي نیزه یې
له ډېره قهره د اسمان څنډې ته وویشتله
نن د سیندونو اوباران واکمنې
«اناهینا» هم ژړل
دا د بیلتون ورځه وه
د هوې پاکې او سپېڅلې مینې
د دوه مینو د بیلتون شیبې وې

نن ہې ښا ښسته او شاس ارشا ک نه بیلوله خلکو
په دغه ورځ د دنیا ټولو مینانو ژړل
نن لښکر و کوچېده
نن ہې ارشا ک هم ترکابله لاس تړلی بوته
چې آسمایی ته ولاړشي
او د هوسی معبدکې
د آریانا پر خپلواکۍ باندې قسم یادکړي
اوله دې لورې وروسته
شي د لشکرو مشر
بیا به ورځي چې اباسین څخه ورپورې غاړه
له پنچالیانو او راجا سره جګړې ته ووځي
ارشا ک وپارمن دی ارشا ک دنګه غاړه
ارشا ک د ستر کنشکانۍ متې شو
ارشا ک د ټول روهستان
د پکتانو لښکرو مشر دی اوس
خو د ارشا ک له زړه نه وینې څاڅي
ارشا ک د خپلې معشوقې وروستی دیدن ونه کړ
ارشا ک د ښکلې او شاس مخ ونه لید

دار شاک سترګې دي له اوښکو ډکې
مګر په زړه کې يوه هيله لري
اوخپل مات شوي زړه ته ډاډ ورکوي
غم د راجاجګړې ته
په آريانا مې قسم
چې به تر مرګه پورې وجنګېږم
يا خو به مړشم د اوشاس ديدن به يوسم د سوريا دربار ته
يا به راجا ووژنم
او د هوسې همايون تاج به راوړم
له پنچاليانو څخه باج به راوړم
د آريانا غرور به بياوګټم
چې خوشالي د کنشکاوګټم
چې زما د سوبې خبر
ستر کنشکا واوري
څومره خوشاله به شي
او بيا به ماته زما اوشاس راکړي
نو اې زما ښکلې مېنې!
دکاپيسا ترټولو ښکلې اوشاس!

تاته وعده درکوم
زه به دې ببرته په خپل لاس وګټم
پر پنځالیانو د بري په ستر انعام کې به دې
له کنشکا وغواړم
او ته به تل زماشې.
زما وعده واخله او زما ببرته راتللو ته په تمه اوسه!
پربږده چې ماته سرنوشت وخاندي
زما سر نوشته! په خپل لاس به دې بدل کړم اخر
ستاله تندي نه داوشاس د ببلتون کرښه تورم
زما په متیوکې لادومره زور شته
چې تا بدل کړي بدل
زما سرنوشته! یا به مړشم یا به تا بدل کړم
زما سر نوشته خانده
عشق به له تا څخه کسات واخلي
غم دراجاجګړې ته
اواباسین به داوبو پرغاي له وینو ډک کړم
لنبکر دهسک آپسمایي خواته درومي
ارشاک کابل ته بیایي

او د آسونو د پښو کړ دیې بګړاڼه پناه کیږي وړو وړو
ارشاک به ولاړشي او اوشاس به د بودا نذرشي
نن به اوشاس نذر شي
نن یې وړوړي په کاپیسا کې د بودا معبد ته
نن کاپیسا کې د لوی نذر ورځ ده
داسې لوی نذر چې بودا پخوا لیدلی نه و
کاپیسا ټوله ده له خلکو ډکه
ټول ماشومان، زاړه، ځوانان دي راوتلي د معبد مخې ته
د زانوخیل دی په اسمان کې روان
نن کاپیسا ده له ګلونو ډکه
د هیندوکښ پرسردي واوړي پرتې
او د بګرام د ښته دده ټوله غاټولو ډکه
باد د ځنګله ونې وړو وړو خوځوي
خلک را ټول دي اوبودا ته نذرانه ورکوي
سل آسوني ځوانان ولاړدي له نیزو سره پرلاره کتار
دراهبانو پلوونه له ګلونو ډک دي
او د بودا په نذرانه یې شیندي
د راهبانو بودا مشر داوشاس په هرکلي وتلی

چې يې د سلوز نارېانو د تسپو لړۍ په غاړه کې دي
و شاس د سپين حرير جامې اغوستې
او د ګلابو بو سورګل يې په وربل کې اينبې
زلفې يې تار تار پراوږو پرتې دي
او توري سترګې يې له اوښکو ډکې
نور داوشاس زړه کې غم نه ځايېږي
وروستی ديدن يې دارشاک ونه لېد
اوشاس ارشاک پسې سلګۍ وهي
په وېنوژاړي
اوشاس به نن شي د بودا نذرانه
ارشاکه چېرې ولاړې ؟!
ارشاکه څه شوې مګر نه يې خبر ؟!
چې ستا او شاس به نن بندي شي بندي
چې ستا اوشاس يې د بودا نذر کړه
اوشاس به نورد اسمان نندارد ونه شي کړای
اوشاس به نورد کاپيساله بيابان څخه غاټول ، ټول نه کړي
اوشاس به نورد بګرام د پېغلو ميره نه وي
اوشاس به بيا ارشاک ونه شي ليداي

اوشاس به هیڅکله د پلار او مور دیدن و نه کړي
اوشاس به بیاد هیندوکښ د غره هوسۍ نه وینې
اوشاس به بیاله ستورو د ک اسمان ته ونه ګوري
اوشاس آزاده نه ده
اوشاس بندي شوه بندي
هغه یوازې او یوازې د بودا دلوی معبد نذر ده
نور به د ژوند خپلواکي ونه وینې
اوشاس سلګۍ وهي
اوشاس ژاړي
خو کاپیسا کې هنګامه تودده
کاپیسا وال خپله تر ټولو ښکلې پېغله نذرانه ورکوي
کاپیسا والو د سورېا بګۍ په ګلو پوښ کړه
کاپیسا والو «عشقه پیچ» او «نسترن» او بدلي
کاپیسا والو «کشمالي» او «ربدي» ګل باندې بګۍ پوښلې
کاپیسا والو ډېر «ګلاب» دي پربګۍ ټومبلي
کاپیسا وال ښکلې اوشاس وړي د سورېا بګۍ کې
دغه بګۍ به په اتو سپینو غوایانو پورې وتړل شي
ددې غوایانو به رشمې وي له وربښمو جوړې

کاپیسا والو د ګل پوښې بګی
په ټوله لاره هم ګلان شیندلي
کاپیسا والو پربګی باندې له ګلونه خیمه جوړه ده.
په دې خیمه کې به د ګلو او وربښمو پرتخت
ښکلې اوشاس کینوي.
کاپیسا والو د ښکلا نذرانه
څومره چې کیږي هومره ښکلې کړله
څوپړې طلسم دراجا او ابلیسانومات کړي
اوشاس بګی کې ناسته
سپینو جامو کې د حرېرو څومره ښکلې ښکاري
د اوشاس سترګې خدا یزده څه ته ځیر دي
کومو سو چونو ده په سراخیستې
ېو څاښکی اوښکه یې له تورو سترګو ښکته راځي
پر ګلابي سپین اننګي باندې یې لاره باسي
خو د اوشاس سترګې لاځیر دي او په سوچ کې تللې
څونښنو ازوغږوله شپیلۍ
بګی ورو ورو روانه
او د معبد په لور تله

اوشاس دورک سر نوشت لاړ څاري
او د بګۍ له هر خوځښت سره ورو ورو خوځېږي
اوشاس په خپل راتلونکي نه پوهيږي
اوښاس بګۍ کې ناسته
بودا راهب يې دی په مخکې روان
بودا راهب لاس کې نيولې د معبد ډيوه ده
څونښنو از و غږوله شپيلۍ
او چې اوشاس معبدته ورسيده
نينو ازانو د «ناګا» سندره پيل کړله
چې د مارانو د پاچا په نوم وه
کا پيسا والو هم ژړا پيل کړه
د بګۍ شاته داوشاس سپين سرې موراوبودا پلار روان وو
د معبد مخکې راهبان کتار، کتار ولاړ وو
او پربګۍ يې د ګلونو ځولۍ وشيندلې
خلکو حيران حيران اوشاس ته کتل
هغه له هرې ورځې لانبکلې وه
نينوازانو په شپيلۍ کې نيلوفروته سرود غږاوه
او له بودا نه يې د خپل نذر مننه غوښته

بودا راهب راغی اوشاس یې لاس نه ونیوله

او ، اوشاس کرکه وکړه

د بودا لاس یې بدشا گوم وگانه

اوشاس په ناز ناز له بگی بنکته شود

نښوازانو د کوترې سرود وغږاوه

نو دا وشاس پلار او مور

دوروستي ځل لپاره خپله لور په مینه بنکل کړه

او شاس ژړل او پلار و مور یې هم سلگی وهلې

آه څه غمجن ساعت و

څومره خواشینې شیبې

څه غم لړلې ورځ وه

لکه چې تولو بگرا موالوژړل

خو چا یې غږ نه اوریده

د کاپیسا دښتو او غرونو ژړل

کاپیسا ! نورد به دې بنکلې او شاس ونه وینې

کاپیسا ! نور به دې لمن کې هغه ونه ناڅي

کاپیسا ! وژاړه او زړه دې تش کړه

نن دا وشاس وروستی دیدن وکړه

اوشاس د تل لپاره
ستا د معبد بندي شوه
بودا راهب دا وشاس لاس ونيوه
کرار کرار يې د معبد په لور روانه کړله
د معبد خوله کې راهبان ټول په سجده پربوتل
نينوازانو د هوسې سرود ته پيل وکړ
د معبد لويه دروازه خلاصه شوه
خو اوشاس ودريده
خپلې لمدې سترګې يې واړولې
د کاپيسا وروستی ديدن يې وکړ
پاس يې اسمان ته سترګې پورته کړلې
او بيا يې خپل مور او پلار هم وليدل
لرې او ډېر لرې يې
د لمر خاته خواته نظر وګاندې
او پټ په زړه کې يې د مېنې کلمه تېره کړه
ارشاکه چېرې يې چې نه ښکاري ؟
تا نه قربان شمه له مانه مرور خونه يې ؟
ماخولو ټوله نه وداع وکړله

مگر ستاغږ نه اورم

تا راته ونه وېل:

«اوشاس په مخه دې نښه!»

تا نه قربان شمه ارشا که ګرانه!

خدای (ج) خودې ساته د دښمن له تورو

پام چې ماهېرد نه کړې!

د اوشاس سترګو څخه دوه داوښکو څاڅکي ښکته ورغږ بدل

او بیا یې ګام پورته کړ

چې د معبد د دروازې له ستونې تېره شوله

بیا چاونه لېدله

اوارشاس ولاړ ته لو سترګو نه پناه شوه پناه

بیا د معبد دننه

دلوی تالار درشل کې ودریده

داسې تالار چې له مرمرو او غمیو جوړو

داسې تالار چې هر ستون یې لکه لمر ځلېده

د دیوالونو تر څنګ

راهبان ټول کتار - کتار - دیوه پرلاس ولاړ وو

د تالار مخامخ په برسر کې «بودا» ولاړو

خلاصو سترګو يې تالار ته کتل
بودا اوشاس ته کتل
اوشاس بودا ته کتل
بودا جوړ شوی وله توري تيرې
اوشاس د سپين حرير جامې اغوستې
د اوشاس سترګې وې له اوښکو ډکې
د بودا سترګې له ډبرو جوړې
بودا خپل نذر ته په برند وکتل
بودا راهب داوشاس شاته ولاړ
اوشاس حيرانه پاتې
چې خدايه څه به کيږي ؟
بودا راهب د بودا مخ ته په سجده پرېوته
او بيا يې داسې وويل
ښاغليه! تاته موښکلا راوړې
د کاپيسا ترټولو ښکلې پېغله
هاچې ښکلا يې طلسمونه د ابليس ماتوي
هاچې دلبرده د ډبرو زړونو
هاچې سندرې يې له خمکې نه ګلان توکوي

ها چې نڅايې د زړه زنګ مينځي
هغه چې زلفې يې د تورو اوښايسته سنبلو
د تور آبشار په شان موجونه وهي
هغه چې سپينه د سپوږمۍ په شان ده
هغه چې ښکلې د هوسۍ په شان ده
هغه چې زړه يې له لښکر د کنشکا نه وړي
هغه چې لوبوا تلانويې قدم کې دي سرونه ايښي
هغه چې مينه يې جنون پاروي
او کا پيسا يې د ښکلا له اوازو ډکه ده
هو! داسې ښکلې پېغله
تاته سوغات درکوو
تاته يې نذر کې خيرات درکوو
چې هر ماښام ستاد معبد ډيوې روښانه کړي په خپلو لاسو
اوهره شپه دې مخ کې
لکه لمبه و ناڅي
او په سندروکې دې وستايي
ښاغليه! ويې منه!
ښاغليه! ويې منه!

دا ښکلې پېغله به داستا تر قدمونولاندې

خپلې مشکینې زلفې وخوروي

دا ښکلې پېغله به دې هره ورځ ټول جسم په ورېښمو پاک کړي

دا ښکلې پېغله به وي ستا کنيزه

او ستا خدمت به کوي

دا ښکلې پېغله به دې مخ ته ناڅي

دا ښکلې پېغله نذرانه د کاپيسا وګڼه

دا ښکلې پېغله ته سوغات د کنشکا وګڼه

ښا غلبه! ويې منه!

ښا غلبه! ويې منه!

بودا راهب دغه خبرې وکړې

او ببا يې ښکلې اوشاس

د بودا مخې ته ورټېل وهله

اوشاس خورد ورد په پښو کې د بودا پريوته

د اوشاس زلفې د بودا تر قدمونو لاندې وشيندل شوې

اوشاس سلګۍ پېل کړې

اوشاس معبد پر خپلو اوښکو باندې ولمباوه

او په تالار کې يې سلګيو انګازې کولې...

ورځې اوشپې تیریدې
د کاپسا سیند داوشاس اوښکې له ځانه سره وړې د اباسین په لوري
هلته چې وینې لکه سیندبهیدې
چې پکتانه وواله راجا سره جګړې ته وتي
هلته چې ښکلي ارشاک
د پنچالیانو تور سرونه ریبل
چې پکتانو زلمیو
له تور لینګیو نه کسات اخیسته
چې ارشاک غشي پر دښمن ورول
هغه ارشاک چې پر اوشاس مین و
هغه ارشاک چې د هوسې پرننګه ولاړه دراجاجګړې ته
هغه ارشاک چې آریانا وربانديې فخر کاوه

هغه ارشاک چې کنشکاورباندې فخر کاوه
هغه ارشاک چې يې د زړه د تخت پاچاوه اوشاس
سترې ارشاک به چې اوبه دا باسين څښلې
نو داوشاس داوښکو څاڅکو به يې لاوينې په جوش راوستې
مګر اوشاس لا د معبدبندي وه
ښکلې څېره يې هره ورځ ژېړيده
د حسن ګل يې رژيده رژيده
اوشاس خدمت د توري تېرې کاوه
او هره شپه به يې د لوی معبد وړه حجره کې
د بيلتانه له غمه
ترسباؤونه ژړل
خويره شپه چې توپانونو وه پر سراخيستې
او هيندوکښ په ګردله کې پټ و
توپان دونو زړې څانګې ماتولې په خرپ
بادله کړکسو ، دروازو څخه غږونه ايستل
او دمعبد ډيوې د بادله لاسه نه وېدې
څه وړووونکې شپه وه
د کې بسا خلک له کورد بهرنه شول وتی

او د توپان لیونی آس په شغهار تېریده
او شاس ناڅاپه پرخپل ځای کیناسته
او د توپان غږیې په زړه کې بوربوکی دویرې وینې کړلې
وشاس هر خواته کتل
مه هرې خوا د سهمگین توپان غږونه راتلل
چې یو ناڅاپه د اوشاس د حجرې وروگرزید
اوشاس له ویرې څخه ځان راغونډ کړ
ورچا په زوره خلاص کړ
داوشاس ستونی وچ شو
چې یو ناڅاپه د بودا راهب څېره ښکاره شوه
په سپینو ستر گو کې یې ننبې د لېوه پېدا وې
اوشاس نه وړاندې راغی
اوشاس حیرانه ودچې داڅه وینې؟
په نیمه شپه ولې بودا راهب راغلی دلته
خو راهب راغی داوشاس ترڅنگه ودریده
اوشاس په ویره ویره وپوښتل چې څه پېښه دده؟
بودا راهب کړی خپلې ستر گې په اوشاس کې خښې
وې ویل: تاغواړمه!

زه یم د ډېرو مودو وړی تېری
نن دې د غېږې په خوندځان مړوم
زما په منځ کې د هوس دوزخ لمبې وهي تل
نن دا لمبې ستا په وجود وژنمه
نن مې د ډېرې مودې
دهوسونو اور په تاشیندمه
نن به زما په غېږ کې ولوبېږې
راشه اوزړه مې سور کړه
اوشاس په چیغو سرشوه:
پام ماته لاس رانه وړې
زخوستا لور غوندې یم
زه به په چیغو چیغو ځان ووژنم
زه به په چیغو کاپیسا ویښه کړم
زه به دې تولو ته رسوا کړم رسوا
بودا راهب په کړس کړس وخندل او ویې ویل:
ووهه څومرد چې دې زړه وي هومرد چیغې وهه
هیڅوک ستا چیغې نه اوري
تویان به ستا چیغې له ځان سره اسمان ته یوسي

ستا غږ هیڅوک نه اوري
که زما غوښتنه دې ونه منله
زه به دې وترم په زور به درنه کام واخلم
راهب چې داوویل
نو پراوشاس ورپریووت
خو د اوشاس وجود کې هم د هیندوکښې وینه وه
اوشاس شېدې د آریانا رودلي
اوشاس بګرام څخه غیرت زده کړی
اوشاس د لویې کاپیسا زمری ده
اوشاس لیوه سره جګړه کوي اوس
او د بودا راهب په متو باندې خوله لګوي
راهب د زور لېوه په شان ستړی شو
اواوشاس ځان تر ې خلاص کړ
خپلې حجرې څخه بهر ووته
مګر لیوه د معبدتولې دروازې ترلي
بوه دالان څخه تربل دالانه منډې وهي
اوشاس سلګۍ وهي معبد کې له لېوه نه تښتي
بودا لیوه هوسۍ نیولی نه شي

د معبد ټولې لارې بندې دي راهب ډاډه دی

اوشاس به ښې ته راځي

اوشاس به خپله راځي

اوشاس چې سترې شي اخر به راشي

او زماغښې ته به ځان وسپاري

د معبد ټولې لارې بندې دي اوشاس بندي دی

مګر اوشاس د هیندوکښ هوسی دی

اوشاس د لوړې منارې لاره په با دساتلې

د معبد لوړه مناره اسمان ته لاره لري

اوشاس د ځمکې لاروڼه موندله

اوشاس اسمان ته خیژي

د منارې زینو کې منډې وهي

بو ډالیوډي په حجره کې لا په ټمه ناست دی

چې اوشاس ښې ته راځي

اوشاس د ټښتې لاره نه لري وروڼه بنددي

مګر بودا نه مناره هیره ده

د اسمان لاره تري ښکاره هیره ده

اوشاس د لوړې منارې څوکې ته وختله

د ساړي شا او خوا تول وو د معبدبامونه
حو ـ وه ارخ ته يې« نيلاب » بهيده
نيلاب د لوړ هيندوکښ زړه نه راته
نيلاب څپې څپې موجونه وهي
نيلاب په داسې توپاني شيبوکې
د ليوني آس په شان
له خولې ځګونه باسي
نيلاب غرمباکوي په تيرو پورې غېړې موښي
نيلاب څه مست روان دی
د کاپيسا سيند په غورځنګ روان دی
لکه د ښکلي هيندوکښ په رګ کې وينه
نيلاب داسې مست دی
اوشاس نيلاب ته ګوري
اوشاس نيلاب ته د ژوندون وروستی خبرې کوي
ښکلېه نيلابه واوره!
ستا غورځنګونه دارشاک د غورځنګونو په شان
ای دارشاک په شانې مسته سينده!
ښ مې د دين له ساتندويو څخه تاته دې پناه راړې

ته د بودا له وارثانو څخه ماوساته!
د عقيدي لپوانو نن له ماعزت اخيسته
هغوی چې خلک د دوزخ له سرو لمبو ويروي
د هغوی زړونو کې دوزخ دی په لمبو راغلی
هغوی چې خلکو ته ايمان او سپېڅلتيا يادوي
هغوی په خپله د وطن د پېغلو پت لوټوي
هغوی چې دين او ايمان دبر يادوي
په خپله ځان په ابليسانو پلوري
د غوناوليو راهبانو خپل ايمان پلورلی
د غوناوليو راهبانو ټول جهان پلورلی
نيلابه تاته مې پناه راوړې
زما سپېڅلېه سينده!
زما مهربانه ورورده!
خپلې بې وسې خورته ورکړه پناه!
ستا پاکې غېږې ته مې ځان سپارمه
زه امانت يم دچا
ما اوريدلي دي چې ته تراباسين پورې ځې
نيلابه زه پوهيږم

چې اباسين خپله مستي ستا له څپونه اخلي
زه مې ځان تاته سپارم
ما اباسين ته بوځه
د هغه سيند پرغاړه
چې زما ارشاک جنګيږي
هلته چې ښکلی ارشاک
له پنځالیانو سره توري وهي
د آریانا عزت په وینو ساتي
د آریانا عزت زما غزت دی
ته زما عزت خپلو څپو کې پټ کړه!
نیلابه غږ مې اوري؟!
نن د نړۍ ترټولو ښکلې پېغله
هغه چې د هر يې په ديدن پسې مري
هو د غه پېغله د غه ښکلې اوشاس
نن خپل ځان تاته سپاري
دادارشاک امانت
دادبودا دستر معبد نذرانه
د غه سپېڅلې پېغله

ترهوسې ښکلې پېغله
ننۍ خپل ځان تاته سپاري
ته ېې په خپل ځادر کې ونغاړه او پته ېې کړه!
چې د دنيا خيرنې سترګې پرې ونه لګيږي
د کاپيسا دا امانت تر اباسينه يوسه!
نيلابه! مادر واخله!
نيلابه! مادر واخله!
اوشاس په سپين حرير کې
د ښايسته سپينې کوترې په شان
د مناري له سرهٔ والوتله
او شيبه وروسته د نيلاب څپوکې
د سپين حرير په جامو پته اوشاس
د سيند څپو سره شوه غاړه غړۍ...

***

نیلاب څپې وهي نیلاب روان دی
نیلاب له لورو سردرو تیریږي
نیلاب ورځې دا باسین په لوري
او د نیلاب پر بستر
د کاپیسا ناوې اوشاس روانه
په سپین حریر کې لکه سپین نیلوفر
چې داوبو پرمخ تاویږي راتاویږي اوځي
لکه سپین قو، چې دابو بهیرته ځان وسپاري
لکه په شنه جلګه کې عکس د سپوږمۍ
د سپین سوسن د ښکلې څانګې په شان

اوشاس اوبو کې د د روانه لکه سپين بادبان
اوشاس ورځې ترا باسينه پورې
هلته چې هرد ورځ دوينو سرې ويالې بهيږي
هلته چې تورې يو پربل لګيږي اور بادوي
هلته د غشو شغهار څخه اسمان چې ډک دی
هلته چې مست آسونه يو د بل سينې ماتوي
چې پکتانه زلمي نيزې واروي
چې پنچاليانو نه لنګونه لويږي
د غه جګړه د ه يود لوبه جګړه
زلمی ارشاک د مست زمري په شان جګړې ته وتی
هرد نيزه يې د د ښمنو بو کتار ريبي
د هر يو غشی په ګوزاريې څوسينې سوری شي
د هرې تورې په ګوزار يې سل سرونه پريوځي
ارشاک پرسپين آس چې « ګوربت » نومپږي
لکه شاهين الوزي
د « ګوربت » آس يې د جنګونو ياردی
او ګوربت آس يې د بيلتون د شپو مونس همدم دی
هغه ګوربت چې پر تندي يې د اوشاس د لاس څوندې ځړېږي

گوربت سینه وهي ارشاک جنگیږي
ارشاک د تورې په وهلو کې ستړیانه لري
چې یو ناڅاپه یې د جنګ میدان کې
د پنچالیانو تور سردار ولیده
هغه راجا چې یې کابل لوټ کړی
هغه راجا چې پر خپل سر یې د هوسې همایون تاج ایښی دی
هغه راجا چې کنشکا ورته قسم یاد کړی
هغه راجا چې د ارشاک زړه یې کسات نه ډک و
او چې ارشاک یې پرسر
همایون تاج ولیده
ځمکه یې پښو لاندې داور تبې شوه
له تور و سترګو یې د قهر سپرغې والوتلې
آس ته یې پونده ورکړه
او په جګړه جګړه یې
خپل ځان ور ورساوه
د دود لښکر و مشران
بر بل ته مخامخ شول
پهلوانانو د یو بل د متیو زور معلوم کړ

راجا په کړس کړس وخندل او ویې ویل:

څومره بې باکه، بې پرواز لمی یې

جګړه خو لوبې نه دي

لکه چې خپل ژوندون دې نه خوښیږي؟!

چې دې له ماسره ځان مخامخ کړ؟

مګر ته نه یې خبر؟

چې زه د تولو پنچالیانو راجا

او د کابل تالانګر

د آسمایي د ستر معبد فاتح یم

مګر ته نه یې خبر؟

چې ستا د ویاړ نښه زما پرسرده؟

زما جګړه د آریانا پر سرده؟

ای د کابل زلمیه!

تاته همدومره پښغور بس دی چې ما

ستا د حیا او غرور تاج راوړی

د خپلواکۍ د هوسۍ تاج دې اوس زما پر سر دي

مګر ته نه وینې چې ستا کابل شو څومره ذلیل؟

نو اوس په کوم زړه زما جنګ ته راغلې؟

دادی در واخله چې وجوددې د پنچال په توره
داسې توتې توتې کړم
لکه کابل چې مې توتې توتې کړ
راجا دا وویل بیا یې هم وخندل
خوارشاک هیڅ ونه ویل
دارشاک سترګې لا د اور بتې شوې
په خپل زلمي لاس کې یې توره کلکه ونیوله
او د عشق نوم یې یاد کړ
د هوسې لوڅ سریې په زړه وګرځید
داوشاس سترګې یې په خپال کې راغلې
پر آربانا ېې خپل قسم رایاد کړ
اود ګوربت په غاړه یې لاس راوکښې
ګوربت پرې پوه شو چې وروستۍ جګړه ده
او ګوربت پوه شو چې له چا سره جګړه کوي اوس
ځکه یې خپل غوږونه څک ونیول
یوځلې وشښنبده
پر دوه پښو باندې نیغ ودریده
او بیا میدان ته وځغاست

تورو یوبل څخه شرنګی پورته کړ
پهلوانانو یو د بل د متو زور ولیده
او جګړه ونښته
راجا د جنګ په چل ووړل پوهیږي
راجا ابلیس څخه جګړه زده کړې
مګر ارشاک زلمی دی
له هرګوزار سره راجا لړزوي
راجا په ښي لاس توره ښه کاروي
نو ارشاک وپوهید چې
د ښمن یوازې په خپل ښي لاس باندې جنګ کوی شي
ځکه ګوربت یې په کین اړخ راتاوکړ
ګوربت پوهیږي چې ارشاک څه غواړي
ګوربت د خپل څنګښتن په راز خبر دی
نوشیبه وروسته آس په کینه خوا راتاو شوو ځغاست
ارشاک ناڅاپه توره کین لاس ته کړه
راجا نه لاروړکه شوه
ارشاک د کین لاس په یوه ګوزار اور مپړ ورمات کړ
او د راجا سر ترپښو لاندې راورغړیده

لښکر چې ولید هیاهو پورته شو
د پنځالسو زرو جنډه پریوتله
ارشاک نیزه په سرکې وتومبله
او د راجا سریې را پورته کړ پرخپله نیزه
د راجا هغه سر چې د هریې په غرور ګرځاوه
چې یې لا تاج پرې د هوسی اینبی و
خو اوس ارشاک ترې بیل کړ
د پنځالیانو پاتې شوي لښکر
توري پرځمکه باندې واچولې
سپینې جنډې یې په نیزو پورته کړې
او پکتانو زلمیو هم نوره جګړه ونه کړه
د غشو شغ د تور و شرنګ ودریدل
د پکتانو د خوشالیو یو غږ پورته شو
ارشاک له سر څخه زرین تاج د هوسی راواخیست
همایون تاج یې ښکل کړ
او چې اسمان ته ځیر شو
ډیر کتار زانې یې ولیدلی
چې د کابل حواته ځي

د ارشاک سترګې شوی له اوښکو ډکې
نور ځندیدل ښه نه دي
هلته کابل کې به تور سړې هوسۍ تمه لري
او په بګرام کې به اوشاس په انتظار ناسته وي
سبا کابل ته کوچ دی
سبا کابل ته کوچ دی...

* * *

مګر نیلاب روان دی
نیلاب هماغسې غورځنګ لري څپې څپې ځي
نیلاب د ښکلې اوشاس ناوې اباسین ته وروري
چې ماښام راشي د څپو پرمخ اوشاس ښکاریږي
چې لکه سپینه بته
د لمر خانه خواته ځي
هر د شپه سیند چې شي د ستور یو بستر
سپینه اوشاس لکه سپوږمۍ ښکاریږي
چې په امیل د سپینو ستوریو کې غمی غمی ځي
اوشاس روانه ده ارشاک ته ورځي

خو ارشاک هم روان دی
ارشاک په شپه او ورځ مزل لنډوي
ارشاک نیزه کې د راجا سر د لښکر له پاسه هسک ساتلی
ارشاک د ښکلې هوسۍ تاج په لاس کې
ځي د نیلاب اوبو ته ځان رسوي
خو په دې نه پوهیږي
چې ستربري ته یې نیلاب په هر کلي کې لوی سوغات راوړی
نیلاب روان دی نیلاب ځي له سرد رو تیریږي
چې یو سهار پرې د سیندونو او باران ملکه
«اناهیتا» کوزه شوه
اناهیتا د شرشرې په شان نیلاب ته راغله
او خپل ویاړلي زوي نیلاب ته یې په ښکلې ژبه داسې ووېل:
زما محبوبه زما ښکلیه زویه!
له هېندوکښ څخه را غلیه زما ستړیه زویه!
زما نیلابه! زما فرمان ته غوږ شه!
د غډ د ټولې نړۍ ښکلی حسن
دا د ښکلا نذرانه
ښکلې اوشاس چې روح یې

د عشق جهان ته میلمنه تللې ده
او سپین بدن یې ستا بستر کې امانت پریښی دی
پام چې پردی یې نه کړې!
اوشاس د ښکلې کاپیسا امانت
اوشاس د ټولې آریانا امانت
اوشاس د ستر فاتح ارشاک امانت
اوشاس د ویاړ د شهنشاه امانت
نوره یې وړاندې مه وړه!
نیلابه ودرېږه!!
نیلابه خپل بهیر راوګرځوه!
پام چې اوشاس اټک نه تېره نه کړې!
اوشاس اټک کې میلمنه وساته!
دا د کابل او کاپیسا نازکه پېغله په ګرمۍ مه سیزه!
هغه پنچال ته مه وړه!
د بګرام پېغله د کابل له پولې مه اړوه!
د هغې ښکلی بدن
د بدرنګیو ښار ته مه لیږدوه!
نیلابه! ته یې د کابل د سپېځلتیا استازی

نیلابه! ته یې د کابل د امانت ساتونکی
نیلابه تا ئن سپیځلتیا او تقدس راوړی
پام چې په سپین بدن یې ستر گې د ناولیو درنه ونه لگي
پام چې د تورو زړونو هیڅ نظر یې ونه وینې
هغه همدلته تم کړه!
اوشاس ده لوی امانت
هغه په خپلو گردابونو کې راوگرځوه
لکه د ښکلي سوسن سپینه ځانگه
لکه د سپین نیلوفر گل په شانې
هغه د دوو هیوادونو په سرحد کې میلمنه وساته!
انا هیتا چې دا فرمان ورکړ نیلاب واوریده
نیلاب همداسې وکړل
ښکلې اوشاس یې په اتک کې تم کړه
اوشاس د سپین گلاب په شان په گردابونو کې اتې پیل کړ
او شاس څپو سره لگیا شوه په ماشومو لوبو
نیلاب په خپل وروستي منزل کې ده اوشاس ساتلې
خدایزده نیلابې چاته په ټمه دی
اوشاس په گردابو کې ساتي

نیلاب په ټمه دی لښکر روان دی
لښکر خوشاله دی، لسکر د د لویه سوبه کړې
لښکر په بېړه د کابل خواته ځي
زلمی ارشاک هانومیالی فاتح
پرګوربت سپور دی ګړندی فاتح
ارشاک په غېږ کې د هوسې همایون تاج نیولی
اوورپسې ښود سرتیري د د نیزه نیولې
هغه نیزه چې یې پر څوکه دراجا پرې کړی سرنښتی
لښکر روان دی لښکر بېړه لري
لښکر دلویې فتحې زیړی لري
لښکر د فتحې زیری وړي د آریانا په لوري
لښکر د فتحې زیری وړي د کنشکا په لوري
لښکر اتک کې د سیندڅنګ ته روان
لښکر د خپل هښواد سرحدته راغی
لښکر روان دی او ارشاک تړی دی
ارشاک د مست نیلاب اوبوته تړی
ارشاک د خپل هښواد ډیدن ته تړی
ارشاک بګرام ته تړی

ارشاک اوشاس ته تږی
ارشاک روان دی ارشاک بېړه لري
ارشاک د ټول مزله ګامونه شمیري
ارشاک چې څومره وړاندې ځي هغو مره لا تږی شي
دا ارشاک زړه په هر ېوګام کې سل ټوپونه وهي
او ارشاک بېړه لري تنده لري
حویو ناڅاپه ګوربت آس ودرېد
ګوربت غوږونه څک کړل
ګوربت څه پسښه ویني
و ناکراره ښکاري
چې ګوربټ ودرید لښکر ودرید
ټول شول حیران چې دا به څه پېښه وي
ګوربت پښې پرځمکه وګنډلې
ارشاک هر خواته په ځېرو کتل حیران شو حیران!
ګوربت یې ونازاوه:
اې ماته ګرانه آسه!
مګر پېښې شوي څه دي؟
چې داسې ودریدې!

مگر ته نه یې خبر ؟

چې مورد بېړه لرو

مگر ته زما د زړه آواز نه اورې ؟!

زه مې د مینې په دیدن پسې مرم

نن چې فلک زما په خوښه څرخي

چې ما هر څه ګټلي ؛

همایون تاج ، د آریانا غرور ، اوشاس او هر څه

مگر ته ودریدې ؟

ستالیونتوب ته زه حیران یم حیران

مگر څه پښښه د د چې داسې وارخطا ښکارېږې ؟

ګوربته! څه !

ګوربته وړاندې ولاړشه!

ګوربته ما کابل ته ورسوه!

ګوربته! اوس ناڅواني نه ده په کار

ګوربته: ما تر خپلې مینې پورې ورسوه

ګوربته! څه!

ګوربته: وړاندې ولاړشه

خو ګوربت نه ځي ګوربت ټینګ ولاړدی

گوربت په ځمکه پورې پښې میخ کړي
ارشاک چې هر څومره زاری کوي گوربت ېو قدم هم نه اخلي
گوربت ولاړدی لښکریان حیران دي
ارشاک غوسه شوېه گوربت باندې يې چیغه وکړه
گوربت ناڅاپه په پښو ودریده و شښنېده
او گوربت داسې لیونی شو چې ارشاک يې کوز کړ
گوربت شښنیږی گوربت پښې ټکوي
خو ارشاک نه پوهیږي
لښکر حیران ولاړ دی
چې یوناڅاپه گوربت وځغاسته د سیند په لوري
گوربت د سیند په غاړه ودریده و شښنیده
تابه وبل ځان به اوس په سیند لاهو کړي
خلک حیران دي چې گوربت په سیند کې څه لیدلي ؟
ارشاک لښکر ته ووېل:
زه مې خپل آس پېژنم
هغه بې ځابه لیونتوب نه کوي
هر و مرو بې په نیلاب کې دي کوم څه لیدلي
زه به يې وگورم چې څه پېښ شوي

او د سیند غاړې ته ارشاک راغی
لښکریان هم ورپسې
گوربت شښنیږي او پښې ټکوي
هغلته لرې د سیند منځ کې اوبه
په سپین حریر کې ښو قامت تاووي
لښکریان ټول حیران دی
او دارشاک له زړه نه غږد ماتیدلو راځي
ارشاک حیران دی دا به څه پیښه وي؟
مگر نیلاب گوربت ته څه ووېل؟!
چې لیونې شول دواړه
دا سپین قامت د چادی؟
ارشاک لښکر ته غږ کړ:
نیلاب کابل نه کومه پېغله ده راوړې دلته
زمونږ د هېواد کومې بې وسې نجلۍ
نیلاب ته ځان سپارلی
مگر نیلاب د آریانا وینه په رگ کې لري
نیلاب له هسکه هیندوکښه راځي
د نیلاب نه لوړیږي

چې د کابل پېغله پنچال ته يوسي
اناهيتا به ورته ويلي وي چې ويې ساته
نېلاب همت لري نيلاب مغرور دی
او گوربت هم نه غواړي
چې د کابل او هيندوکښ پېغله پنچال ته يوسي.
گوندې د هغې پر سپېځلي غيرتي بدن بې
د بيگانه سترگو خيرن نظر هيڅ نه لوريږي
ځکه گوربت او نيلاب
په داسې ښکلي ليونتوب سر شوي
زه به د خپل هېواد سپېځلی ناموس
هيڅکله پرې نه ږدم چې ولاړشي د بدرنگو ښارته
د کابلی پېغلې سپېځلی بدن
بايد په خپل هېواد کې خښ شي نه پردی خاورې کې
ځکه نيلاب هم امانت ساتلی
نيلابه تا څخه مننه کوم
دادی نيلابه امانت دې اخلم
ارشاک دا غږ وکړ په سيندلا هوشو
ارشاک د مست نيلاب څپوسره سينه وهله

اوشیبه وروسته یې په سپین حریر کې
او شاس ساحل ته راوړه
ارشاک اوبو کې لاد خپل جانان بدن وپېژاند
ارشاک دیار د غېږې عطرو مست کړ
اسمان کې څوکتاره زانې د کابل خواته تلې
سوریاد مینې د وروستي فصل سندره ویلې
نیلاب د خپل بستر هنداره کې لالړ ځلاوه
او د کابل له خوا خوږه خوږه وږمه راتلله
لرې ځنګلونه لاپه خوب ویده وو
اتک دلویې ورځې پیل لمانځه
ارشاک د خپلولښکریانو مخ ته ودریده
خولښکریان حیران وو
ښکلې اوشاس د سپین سوسن د تاندې څانګې په شان
د خپل محبوب پر دواړو لاسوغزیدلې وه اوس
ښایسته اوشاس داوږد مزله ستړې وه
تا به ویل اوس د خپل محبوب په غېږ کې دمه کوي
له تورو زلفو بې او به څڅیدې
او د ګلاب په شان ښایسته ښکاریده

ارشاک لاهیڅ نه ویل
په برند و سترګو یې هر خواته کتل
یوځل اسمان ته ځیر شو
د ځړو سترګو په کونجونو کې یې او ښکو
د سرووینو په شان موج وواهه
خویونا ځاپه یې کړس کړس وخندل
داسې یې وخندل چې غږ کې انګازې خورې شوې
داسې یې وخندل چې غږ یې د خندا ، له اسمانونو څخه هم واوښته
داسې یې وخندل چې ټول ولړزید
اوشاس یې غږ کې ټینګه ونیوله ویې خندل
څه لیونی خنداوه
چې دا وشاس بدن یې هم ړېرداوه
ښایي لومړی ځل و چې
د ارشاک پښې لړزیدې
څوشیبې بیا غلی شو
او بیا یې خپل لښکر ته داسې وویل:
تاسویې وینئ چې نیلاب زما بري ته لوی سوغات راوړی
تاسویې وینئ چې اوشاس په خپله دلته راغله

تا سويې وينئ چې هغې د خپل محبوب ليدو ته څومره ډېره بېړه کړې؟

تاسويې وينئ؟!

دا اوشاس ده اوشاس

زما د ژوند تر ټولو لويه هيله

زما د ټول سرنوشت لويه هستي

او ارشاک بيا غلی شو

پاس په اسمان کې لاډزانو کتارونه د کابل خواته تلل

او د نيلاب پر مخ لالمر ځليده

لرې ځنګلونه لا په خوب ويده وو

ارشاک اوشاس ته کتل

هوځل به يې وخندل او بيا به يې د اوښکو څاڅکي وورول

يوځلې وبو ټکيده

او بيا يې ورو ديوه راز په شان او شاس ته ووېل:

زما محبوبې!

زما ګرانې اوشاس!

زما تر ټولې نړۍ ښکلې اوشاس!

شوندې دې وخوځوه!

سترګې دې پرانيزه اې ښکلې اوشاس!

ماستر بری ګټلی

زما محبوبې یو ځل بیاوخانده!
زما محبوبې زما ګرانې مینې!
ولې دې بیړه وکړه؟
مګر پر مادې باورنه درلوده؟
مګر زما وعدې دې نه منلې؟
دادی زه ببرته راغلم
اوشاس! بو څه ووایه!
اوشاس یوځل خوراته وګوره بیا!
اوشاس زاری کومه
اوشاس یوازې یوځل بیاوخانده!
زما محبوبې زما ګرانې اوشاس
ماویل چې تا به دبرې سوغات کې
سترکنشکا څخه د تل لپاره وغواړمه
مګرد عشق شهنشاه ببړه وکړه
اوته یې ماته د نیلاب په لاس راولېږلې
ګرانې وعدې دې څه شوې
په خبال کې هغه بارانې دې څه شوې
ګرانې وېل دې: زه به ستا ناوې شم

په روهستان کې به یو کور جوړ کړو
ځان به د عشق په هوسونو مور کړو
ګرانې هغه خیالونه چېرې ولاړل ؟!
هغه د عشق خوبونه چېرې ولاړل ؟!
وفا دې څه شوله قسم دې څه شو ؟!
هغه د مینې لوی پرتم دې څه شو ؟!
زما محبوبې زما ګرانې اوشاس!
زما ترټولې نړۍ ښکلې اوشاس!
ارشاک سلګۍ وهي ارشاک ژاړي
ارشاک اوشاس په خپلو اوښکو مینځي
ارشاک په ستر ګو کې نیلاب ځای کړی
ارشاک په غېږ د کې اوشاس ټینګوي
پاس په اسمان کې لاد زانو کتارونه د کابل خواته ځي
لښکر حیران ولاړ دی
د پکتانو زلمیو ستر ګې دي له اوښکو د کې
آن د ګوربت له ستر ګو اوښکې راځي
ټن د دنیا د ژړا دلو ورځ دد
اوښکې بهېږي او شیبې تیریږي

د لمر زرښه بګۍ ځي د نیم اسمان په لوري
ارشاک د ښکلي اوشاس مړی له لاسونو کوز کړ
لښکر ته مخامخ په پښو ودریږد
سوځل یې بیا په ځیر ځیر تول لښکر له ستر ګو تیر کړ
خپلې ځړې سترګې یې تولو ته وروړولې
او بیا یې داسې ووېل:
زما خوږ وملګرو!
د پکتیانا اور وهستان لښکره!
ستر کنشکا به تل په تاسو ویاړي
زما میړنوز لمیو!
نن سر نوشت د خپل کتاب د یوې بلې پانې
په اړولو سره موږ ته خاندي
د سرنوشت د بریالۍ خندا کړس کړس زما تر غوږه راځي
ښایي چې دا به سر نوشت وي چې زموږ ژوند بدلوي
او ښایي موږ به سرنوشت هیڅ بدلولای نه شو
د کنشکا لښکره!
د سرنوشت کتاب زما لپاره نورې پانې نه اړوي
نن زما وروستۍ ورځه ده

نن یوه بله نامراده مینه

د خپل دیدن ارمان د عشق بلې دنیا ته وروړي

مګر زما یو څوخبرې واورئ!!

ګوربت له ځان سره کابل ته بوځئ!

په هسکه غاړه یې زما پرځای زرین تاج د هوسې کېږدئ!

ستر کنشکا به په خپل لاس هغه معبدته یوسي

او په کابل کې به لوی جشن جوړوي

او کنشکا به یوځل بیا تاج د هوسې پرسرږدي

ستر کنشکا ته زما له لوري دا پیغام ورکړئ:

چې زما د فتحې سوغات

د عشق پاچا ماته همدلته راوړ

ولاړشئ بګرام ته کنشکا ته زما سلام یوسئ!

او خپل هېواد مه پلورئ!

ما خپل انعام موندلی

ما خپل مرام موندلی

د آریانا لښکره!

زما وصیت دا منئ!

«اتک» د دوو هېوادونو سرحد

او ترابده د کابل پوله ده

د اباسین ښي لاس ته هالوړې غونډۍ ته ځیرشئ!

دا د کابل ځمکه ده

او ددې سیند کینې اړخ ته بله غونډۍ

د هندوستان ځمکه ده

د اباسین په همدې ښي لاس د غونډۍ پر هسکه څوکه باندې

مور ته یوقبر جوړ کړئ!

ما او ښا بسته اوشاس یوځای خښ کړئ!

د اباسین پر هغه بله غاړه

د هغې کینې غونډۍ څوکه باندې

هغه نیزه ودروئ!

چې د راجاسر یې په څوکه بنددی

دراجا مخ یې د وطن په خوا کړئ!

چې ټپوسان ور څخه سترګې یوسي

او تر اتیکه ها خوا خلک یې د تل لپاره سېل وکړي

زمور زیارت به د هېواد پوله د تل لپاره وساتي له بدوسترګو

زمور زیارت به د اتک نښه وي

زمور زیارت به د کابل نښه وي

زمږ زیارت به د کابل یادګاروي
د کنشکا لښکرو!
زما د ازیری کنشکا ته یوسئ!
د ابلیسانو طلسمونه مات شول
مګر یوازې د ښکلا نذرونه منل شو
دا نذرانه به نن په عشق پورې شي
عشق نذرانه ورکوي
او د عشق دا نذر به و منل شي
د عشق دربار ته به نن دوه سپیځلي زړونه یوسو
عشق به د ازړونه نذرانه کې مني
عشق سرنوشت نه دی چې زړونه مات کړي
کله چې زه د خپلې ښکلې اوشاس
په غږ کې ساده ورکړمه
نو سرنوشت به راته څه ووایي ؟!
دا چې د خپلې محبوبې ترڅنګه ومرمه نن
عشق به کسات له سرنوشته واخلي...
ارشاک د ښکلې اوشاس مړی غږ کې ټینګ نیولی
وروستی سلګیوورو ، ورو وخوځاوه

ورو یی له ځان سره «اوشاس» ووېل

او په خندانه خوله اسمان ته ځېر شو

ښایي اسمان کې عشق د نوي سفر لار ورښيي

ښایي چې عشق به د مینو زړونو نذر مني

عشق په اسمان کې دارشاک او اوشاس لارد ځاري

عشق آریانا ځخه د خپل ابدیت نښې خپل دربار ته غواړي

عشق د محبوبوله موسکا سره د بل جهان سفر پېلوي

عشق سر نوشت ځخه کسات اخلي

عشق بود لوبه هنګامه جوړوي

عشق

یود

داسې

افسانه جوړوي.

پای

یولنډ بادنبت:

دا افسانه...

دا کیسه یو سل وشل کاله کم دوه زره کاله وړاندې پېښه شوې ده ، چې د کوشاني مدنیت په ورکو پانو کې یې یوتت افسانوي انځور شته. ځولسیزې وړاندې د دري ژبې وتلي اوخوږ ژبي نثرلیکونکي نجیب الله تورواینا هم په خپله یو د لنډه کیسه کې د دغې افسانې یوې برخې ته په یوې بلې خورې وړې بنې سره اشاره غوندې کړې وه ، چې د افسانې د یوې لنډې برخې تر تاریخي بادونې یې ژبنی سینګار ډېر د پام وړ دی.

زموږ لاس او وس دا افسانه په دې بنه راوسته ، وې دې ، چې لوستونکي یې څنګه بولي ؟! خویو څوتکي چې په افسانه کې نا اشنا غوندې بریښي دلته یې د رونولو هڅه کوو :

پنچالیان: د هندوستان د نامتو تاریخي کتاب (مهابهارت) په اتم پرب (فصل) کې چې د (کرن پرب) په نامه هم یاد ېږي او په هغه کې د «ارجن» او «کرن»

د جګړو کیسه راغلې ده، هلته ترابا سینه ورپورې غاړه د «پنچالیانو» په نامه یوه قوم یادشوی دی او د یو شمیر تاریخي روایاتو پربنسټ دغه قوم څه موده د ستر کوشاني پاچا (کنشکا) په وړاندې جګړه کوله خو په پای کې هې د ستر کنشکا د لښکرو په وړاندې ماته وخوړه او د دوی راجا، چې «شل» نومیده اواعزازي بلنوم یې «ګوپال» و د ارازیو مهال یې پرکشمیر هم پاچاهي کوله په دغو جګړو کې د کنشکا یې لښکر په لاس و وژل شو.

آسوني «ساتونکي»: ماشوځاهه وکتل اوراته ښکاره شوه، چې (آسونیان) پخوا د شاهي مانیو او مذهبي ځایونو هغه ساتندویان نومیدل چې دنګې او ښکلې وني به یې د رلودې او له اوسنیو ګاردونو سره ورته وو کیدای شي پرته له دې د کوم ځانګړي تېرپا پاچاهي کورنۍ نوم هم وي خو ماونه مونده. په سانسکریت کې آسون هغه ستوری ته وایي، چې له څلویښتو ستورو څخه لومړی هغه دی او اوس یې پښتانه «لودي» بولي.

دیوبسنا: «دیو» تر زردشتیانو مخکې د اربابه الانواعو لپاره کاریده، خو زردشت دا نوم منسوخ کړ او «دیو» یې د «بلا، غول او تېرایستونکي ارواح خبیثه» په مانا وکاروی چې «دیو» تر اوسه هم په منفي مانا کارول کېږی، زردشتیانو به هغه مهال خدای پرست ته «مزدیسنا» اود باطلو دینونو مشرکو پیروانو ته «دیویسنا» وېل.

سوریا: سوریا هې د رنا او اور نښه او څښتنه بلله، سوریا د لمر لور (یازوی) ته

هم وېل شوي او د کابل په خیرخانې کې یې مزدک (معبد) موندل شوی، وېل شوي چې سوریا د لمربوده ښکلې شهزاد ګی وه. او په خپله لمرته یې هم وېل.

اناهیتا: دغه اویستایي رب النوع په ویدي دوره کې «اپام نپات» یاد شوي ده چې داوبو لور مانالري؛ دا داوبو، سیندونو، باران او ښېرازی حسنتنه ټلل کیده د اوستا په «آبان یشت» کې د یوې ښکلې نجلۍ په بڼه راغلې ده او د زېرېدنې د روزونکې او میندوته د ښوشیدو د ښونکې په صفت هم پېژندل شوي ده خو د یر شهرت د سیندونو او اوبو په واکمنۍ کې لري.

کوبا: په کوشاني پېرکې د «کابل» نوم کوبا او په ریګوېد کې چې د کوبا سیند په نامه ګوم سیند باد شوی دی له هغه ځخه موخه همدغه د کابل سیند دی.

همایون یا هماګون: دا د همادسیوری په مانا دی چې اصلي بڼه یې «هماګون» دی د آریایي پاچاهانو تاج ته یې هماګون یا همایون وېل او په دې لنډ مثال کې چې د افغانستان او ایران پاچاهانو ځانونه اعلیحضرت همایوني بلل هم لامل بې داو.

بګرام: دا د کابل ځنګ ته همدا اوسنی بګرام دی چې پخوا د کاپیسا یې مدنیت پلازمینه وه او ستر کنشکا به اوړی همدلته تیراوه هلته د کنشکا په ژمنۍ پلازمینه پرشاپوره (ننني پېښور) کې هم بوده سیمه د بګرام په نامه یاد بده چې د فاضل استاد پوهاند رشاد په قول تر بوځه مودې وړاندې هم دا سیمه په همدې نامه یاد ده شوې ده به دغې منظومې کې راغلې بګرام همدا کابل ته څېرمه بګرام دی.

اتک : هغه مهال یې (ارک هند) باله د مهابهارت په اتم پرب کې (اتک) یاد شوی دی.

ارشاک: دا پهلوان په پخوانیو کتابونو کې «ارځک» = «اځک» هم یاد شوی چې او سنۍ اځکزي په همدې پورې اړوند ګڼل شوي دي.

اوشاس: «اوشا» په سانسکریټ کې رنا ته وایي، (اوشاکال) درنا د مهال په نامه یاد شوی دی او سهار = سپېدې یې هم بللي دي، «کال» په دغه ژبه کې د وخت او مهال مانا لري.

اباسین: اوسنی اباسین چې پخوا یې «سیندو» او «اندوس» باله «سیندو» یې آریایی او «اندوس» یې یونانی نوم دی.

نیلاب: د کابې سره د سیند پخوانی او اوسنی نوم دی.

هیندوکښ: هیندوکځ=هیندوکوه=هندوکش (اوسنی) خو آرنوم یې هماغه هیندوکځ دی چې د اوبو د کڅوړې او ذخیرې مانا لري.

راهب: دلته د دیني مشر، بودایي عالم، زاهد او ښوونکي په مانا راغلی استاد ـ رشاد وایي چې بودایي مبلغینو ته یې «سدهی ستود» ویل او استاد باختری وایي چې د بودایی مذهب مشران اوس «شمن» بولي.

سویمبر: دا کلمه په منظومه کې نه ده راغلې، خو همدا چې اوشاس پر ارشاک داتن په حالت کې ګلان شیندي او ما دا پینبه په ناخبرۍ سره یاده کړې وه کله چې استاد رشاد دا برخه واوریده وې ویل: په آریایانو کې داسې دود و چې د پاچاهانو

لورګانو به کله چې غوښتل ځانته مېړه وټاکي نو د سویمبر دود به یې ترسره کاوه او دا دود داسې و چې د شهزادګۍ دمانۍ مخې ته به لویو پهلوانانو پوځي مسابقې او لوبې کولې او چې د شهزادګۍ به کوم پهلوان خوښ شونو دهغه په پګړۍ کې به یې ګل وټومبه او بیا به یې هماغه پهلوان خاوند شود سویمبر لغوي مانا « په خپله خوښه د مېړه ټاکل » ده.

د « ناګا ، نېلوفر ، کوترې ، هوسې او... » سرودونه: دا د بودایانو د آریایې مذهبي سرودنو نومونه وو چې په مذهبي مراسمو کې به یې غږول « ناګا » د آبي مارانو د پاچانوم دی.

ددې یادښت سرچینې:

۱ - **مهابهارت:** ترجمه فارسي مهابهارت با مقدمه ابوالفضل چاپ لکنهو (پرب هشتم) د فاضل استاد پوهاند رشاد د ځانګړې کتابتون نسخه

۲ - د لوی استاد علامه عبدالحي حبیبي **« د افغانستان لنډ تاریخ »** هغه کتاب چې محمد داود وفا را پښتو کړی او دانش کتابتون په ۱۳۷۸ لمریز کې خپور کړی دی.

۳ - **دلیل ساطع** د مولوی محمد مهدی واصف تألیف او پر ۱۲۶۸ قمري کال د هندوستان چاپ.

٤ - د فاضل استاد اکادمیسین پوهاند رشاد لار ښوونې او څرګندونې.

۵ - او د لیکوال ځانګړي یادښتونه.

کتابفروشی بلخ

یونیورستی رود، شاهین ناون

مقابل کسټم هاوس

پشاور، پاکستان

تیلفون: ٤٤٩٧١

Email: s.payam@usa.net

حق چاپ محفوظ است

د ژړا ، اور او مینې شاعر

تېر کال یې چې په کابل پوهنتون کې د ژبو او ادبیاتو پوهنځی له پښتو څانګې په لومړۍ درجه لیسانس واخیست نو اوویشت کلن و.

هغه چې د کابل ولایت د موسهی په شنه دره کې راوتو کېده نو ژریې د هنر او پوهې ورمې په ټول هېواد کې خپرې شوې، اوس چې د ملګرو ملتونو په یوې اړونده څانګه کې د خپرونو پرکتنې بوخت دی له دوو شعري ټولګه پرته یې یوه اوږده منظومه «هوسی» هم د لوستونکو مخ ته اینبې چې د نبې ځلیدا آوازې یې ټولو واورېدې.

او همدا یې یوبل شهکار اثر دی، چې قدر منو کتونکیو به یې په خپله هم جاج اخیستی وی. اوس په جدي هڅو بوخت دی او د پښتو شعر د اوس مهالي بهیر علمي، تیوریکه او منظمه کړه کتنه کوي چې ژرېه مویې په خپراوي سترګې رونې شي.

دوه شعري ټولګې او دوه منظومې یې پوره دي او د علمي - مسلکي مقالو یوه ټولګه یې هم نبا یې چاپ شي. «د ژبنبوونې آرونه» پوهنیز کتاب یې هم لیکلی، چې د لېسانس دورې مونوګراف یې دی. خدای دې پر وطن رنا کړي چې په دومره ځان یې ددومره هڅود نبه تراګنې اخیستنې جوګه شو. د آزادی لمر راختونکی دی.

محمد داود وفا

۵/۱/۱۳۸۰ پیښور، حیات آباد.

د شاعر خپاره شوي آثار:

۱ - مخه نبه او دوه منظومې.

۲ - ژړا، اور، مینه (د شعرونو مجموعه)

۳ - هوسی (منظومه)

٤ - ارشاک اواوشاس همدا اثر.

ARSHAK AND OSHAS

By:

Abdul Ghfoor Lywal

March, 2001, Peshawar

کتابفروشی بلخ

یونیورستی رود، شاهین ټاون

مقابل کسټم هاوس

پشاور، پاکستان

تیلفون: ٤٤٩٧١

Email: s.payam@usa.net

حق چاپ محفوظ است